نجیب سلیمان ۲۰۱۰/۹/۹

# ملي قهرمان که د نفاق قهرمان

په کال ۲۰۰٤ کښې د جمهور رئيس کرزي د يو فرمان په اساس احمد شاه مسعود ته د ملي قهرمان لقب ورکړ شو. ده ته بايد د ملي نفاق د قهرمان لقب ورکړ شوی وي. خو څه وکړو د افغانستان جمهور رئيس ددې په ځای چې د قندهار شهيدانو ته، د لويې پکتيا شهيدانو ته، د لوی ننګرهار شهيدانو ته او د نورو ولايتونو شهيدانو ته د قهرمانئ لقبونه ورکړي وې، هغه داسې يو چا ته دا لقب ورکړ چې دا هيواد يې د تعصباتو په خنجر سوری سوری او ټوټې ټوټې کړ. هغه داسې يو چا ته دا لقب ورکړ چې دوطن واحد بدن يې داسې زخمي زخمي کړ چې لا تر اوسه ترينه سرې سرېويني څاڅي.
د افغانستان جمهور رئيس! احمد شاه مسعود ته د ملي قهرمان د لقب په ورکولو سره له ملت سره ستره جفا وکړه. کاش چې جمهور رئيس مسعود ته د ملي قهرمان د لقب د ورکولو نه د مخه ولس ته مراجعه کړې وې او په دې اړه يې د ولس نظر معلوم کړی وی.

جناب کرزی صاحب !
ملي قهرمان داسې نه وي، ملي قهرمان هغه وي چې د افغانستان ټولو قومونوته يو شان نظر وکړي او ټولو ته په درنه سترګه وکوري، ملي قهرمان هغه وي چې د ټول ولس نمايندګي وکړي. احمد شاه مسعود ته څوك په لويه پکتيا، لوی ننګرهار، لوی کندهار او نورو سيمو کښې د ملي قهرمان په سترګه نه کوري، ځکه چې ده په هيڅ صورت د ملي قهرمان کيدو اهليت نه درلود. نوموړی په لويه پکتيا کښې نه ؤ کرځيدلی، هغه د لوی ننګرهار په غرونو رغونو، کليو، ښارونو نه ؤ کرځيدلی، هغه د لوی کندهار په ښارونو، کليو او بانډو نه ؤ کرځيدلی، هغه د هغو ځايونو له خلکو سره نه وو ليدلي، هغه مينه او محبت چې مسعود دخپلي ولسوالئ له خلکو سره درلوده هغه يې د لوی ننګرهار، لويې پکتيا، لوی قندهار له ولسونو سره نه درلوده .
مسعود به د بيت المال پيسې د خپلې سيمې په خلکو ويشلې، هغه به د دولت خزانه له خپلو نژدې خلکو قربانوله، هغه هرڅه د خپلو پنجشيري دوستانو او ملګرو څخه قربانول. له زمردو څخه ډکې کڅوړې او بوجی يې له خپلو وطن دارانو او دوستانو سره ايښې وې، په ملياردو ډالري يې د خپلو دوستانو او آشنايانو او خپلوانو په نومونو د دوبئ، سويس او په نورو بانکونو کښې ايښې وې، هغه پيسې دي او هغه زمرد او نورې قيمتي ملغرې دي چې نن د هغه دوستان، ملګري، خپلوان او آشنايان ورباندې عيش و نوش کوي.
مسعود قيمتي تيکي لکه زمرد او ياقوت او نور له عبدالله عبدالله، فهيم، قانوني او نورو نژدې دوستانو سره ايښې وو، نن دوي غږ نه کوي، که له دوي څخه يوتن حقايق څرګند کړي نو د ټولو غلا څرګنديږي. خو څوك دې داسې فکر نه کوي چې دا هرڅه به همداسې پټ پاتې شي، اوس يې وخت رارسيدلی دی چې د خائنانو له مخونو څخه پرده پورته شي.

په دولت کښې فساد څوك کوي ؟ دا څوك دي چې په لويه پيمانه د مخدراتو قاچاق او تجارتونه کوي ؟ دا څوك دي چې له خارج نه د مرستو له پيسو سره لوبې کوي ؟.
جناب رئيس صاحب ! تاسې له غلو او د مخدره موادو له قاچاقبرانو سره ګروګان ياست . کيدای شي چې ستاسې او ددوي تر منځ يو څه پټه معامله موجوده وي ، که داسې نه وي نو بيا ولې دا خائنين د قانون منګلو ته نه ورسپارې که داسې نه وي نو بيا مو ولې مسعود ته د ملي قهرمان لقب ورکړ ، که داسې نه وي نو بيا به مو قوماندان عبدالحق ، حاجي عبدالقدير او په سل هاو نورو نامتو قوماندانانو ته هم د قهرمانئ القاب ورکړې وې چې واقعا د وطن په خاطر شهيدان شوي دي . که ستاسې او د دغو غلو تر منځ پټې معاملې نه وې نو تاسې به دا غله له خپل څنګ څخه لرکړي وې او په ځای به مو شريف ، وطن پرست ، مخلص او وطن ته وفادار خلك رامخکښې کړي وې چې په ربښتيا سره يې ستاسې ملا تينګه کړې او تاسې يې د ستونزو او مشکلاتو له طوفان څخه ژغورلي وی .

جناب رئيس صاحب تاسې اصلا ددغو غلو د لاس آله ياست. څه چې دوي غواړي هغسې کيږي.
امريکا تاسې ته وايي، دنيا تاسې ته وايي چې د اداري فساديه مقابل کښې مبارزه وکړئ خو تاسې دا کار نه کوی، تاسې يې څکه نه کوئ چې تاسې يې کولای نه شئ. تاسې يې د مخ نيوي وس او توان نه لرئ .تاسې د مافيايي ګروپونو په جال کښې بند شوي ياست .تاسې غواړئ چې ځان خلاص کړئ خو توان يې نه لرئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څير و لولـئ

جناب رئيس صاحب! کوم غله او د ملت دشمنان چې ستاسې شا او خوا را ټول دي، دوی ستاسې حقیقي دوستان ندي، دوی ستاسې په وجود کښې خپلې ګټې ویني، که خپلې ګټې یې نوي یې نو یو ساعت هم له تاسې سره نه تیروي. دوستم له ډاکټر نجیب څخه حمایت کولو خو کومه ورځ چې پوه شو چې له ډاکټرنجیب څخه څه نور لاس ته نه ورځي نو هغه ته یې شا کړه. استاد رباني په ښکاره له تا سې سره سرخوځوي مکر په اصل کښې هغه له تاسې سره ندی بلکې ستاسې د کمزوري کولو د پاره او ستاسې د پښو د ماتولو هڅې کوي، همداشان نور ډیرکسان دي چې تاسې ته وفادار نه دي.
د مسعود د نهم تلین په غونډه کښې چې یو شمیر سیاسي بدنامه مشرانو خبرې وکړې ، هغوی څخه ځینو په مستقیم او غیر مستقیم ډول په دولت نیوکې وکړې . او ستاسې سیاستونه یې غندل .
جناب رئیس صاحب بخښنه غواړ م خو څه وکړم مجبور یم چې حقایق بیان کړم .
تاسې د جمهور ي ریاست د چلولوه په ستره او مهمه دنده کښې پاتې راغلي یاست ، دا نه چې تاسې ددې څوکې اهلیت نه لرئ ، نه داسې نه ده ، خو خبره داده چې تاسې ښه همکاران نه لرئ او تاسې ښه مشاورین نه لرئ.
د وطن د آبادولو او خلکو ته د خدمت کولو د پاره لوی فکر په کار دی، ښه تدبیر په کار دی. له بده مرغه دا فکر او تدبیر نشته.
تاسې د یو څو ناپوهو ، قاچاقبرو ، غلو ، وطن فروشانو ، خائنانو په فکر کار کوئ تاسو د هغوی خبرې منئ دا ددې د پاره چې ځینو یې له تاسې سره د ولس مشرئ په انتخاباتو کښې مرسته کړې ده.

جناب رئیس صاحب !
تاسې د کاندي په هیوادکښې تعلیم کړی دی .تاسې د کاندي مبارزه لوستې ده تاسې وکورئ چې کاندي څه وکړل . هغه ملت جوړ کړ ، هغه ملت را ویښ کړ هغه هندوستان جوړ کړ . آیا هغه خپل هیواد د غلو ، قاچاقبرو ، خائنانو په فکر جوړ کړ او که نه د پوهو ، دانشمندو ، وطن پرستانو د عقل او تدبیر څخه یې کار واخیست. نن کاندي په ټول جهان کښې د یو ستر رهبر په حیث یادیږي .
کاش چې تاسې د کاندي د مبارزې لار تعقیب کړې وې ، کاش چې تاسې د کاندي د ژوند له فلسفي څخه یو څه ناڅه تجربه حاصله کړې وې او هغه مو عملي کړې وې .
تاسو متاسفانه په تیرو نهو کالونو کښې ونه شو کړای چې اقلا د ظاهر شاه د وخت افغانستان جوړ کړې ، د هغه په وخت کښې قانون ؤ ، عدالت ؤ ، مساوات وو، د هغه په وخت کښې قوم پرستي نه وه ، اداري فساد داسې نه ؤ لکه چې نن دی .مونږ د ظاهر شاه د واکدارئ طلائي دور ستاسې د واکدارئ له دور سره مقایسه کولای نه شو . کاش چې تاسې د ظاهر شاه سیاست تعقیب کړی وې .
هغه څنګه حکومت داري کوله ؟ تاسې لږ له مشرانو څخه پوښتنه وکړئ.

جناب کرزی صاحب ! تاسې احمد شاه مسعود ته د ملي قهرمان د لقب په ورکولو ستره غلطي کړې ده . هغه ملي قهرمان نه ؤ ، که هغه ژوندی وې نو هغه به پخپله دومره جرئت نه وې کړې چې ځانته د ملي قهرمان لقب ورکړي ځکه چې هغه پوهیده چې ملي قهرمان کیدای نه شي .
هغه څوک ملي قهرمان کیدای نه شي چې په هیواد کښې د نورو میشتو قومونو په مقابل کښې جنګیږي ، تاسې ته معلومه ده چې مسعود د پښتون په مقابل کښې وجنګید ، هغه د هزاره ؤپه مقابل کښې وجنګید ، هغه د ازبکو په مقابل کښې وجنګید. د مسعود کارنامې به د تاریخ په پاڼو کښې ثبتیږي .
د افغان ټول ولس ته معلومه ده چې مسعود د ټولو قومونو وینې بهولې دي . لاړ شئ له پښتنو ورونو څخه پوښتنه وکړئ ، لاړ شئ له هزاره ورونو څخه وپوښتئ ، لاړ شئ له اوزبکو ورڼو نه وپوښتئ ، او لاړ شئ د هغو شریفو تاجکو څخه وپوښتئ چې د مسعود له سیاستونو سره مخالف دي ، اوبیا له ځان څخه هم پوښتنه وکړئ چې مسعود څوک ؤ ؟.
د ۲۰۰٤ میلادي کال راهیسې د شهید اونئ نمانځل کیږي. همدا نن سبا د افغانستان ملي تلفزیون وکورئ، هره شپه د احمد شاه مسعود په اړه مستند فلمونه ښودل کیږي، آیا تاسې د اطلاعاتو او کلتور له ایراني وزیر مخدوم رهین څخه پوښتنه کړې چې ولې د نورو شهیدانو فلمونه په تلفزیون کښې نه خپروي او یا دهغوی په یاد پروګرامونه نه جوړوي؟ دا سراسر ظلم دی، د ظلم پای ډیر خطرناك دی. نن مارشال په جرمني کښې بیمار پروت دی، خدای د ورته صحت او هدایت ورکړي، دا نور به هم آخر بیماران کیږي، هیڅوك ژوندی نه پاتې کیږي، آخر مرك دی .
څوك چې ظلم زیاتی کوي ، څوك چې په حق سترګې پټوي ، څوك چې د خدای له لارې بې لارې کیږي ، هغه به خامخا د خدای په غضب اخته کیږي.
هر څوك چې ظلم کوي د هغه خونه ورانیږي. خدای پاك د خپلو بندګانو اعمالو ته کوري ، د خدای پاك له نظر څخه هیڅ څه پټ پاتې کیدای نه شي.

جناب رئیس صاحب !


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هر کال د احمد شاه مسعود په تلين په مليونو ډالرې مصرفيږي. په خارج کښې د افغانستان په سياسي نماينګيو کښې په دغه مناسبت پروګرامون جوړيږي او ددولت پيسې پرې مصرفيږي ، په ولايتونو کښې کښې ورته پروګرامونه جوړيږي او لګښتونه کيږي . دا ولې ؟
آيا بهتره نه ده چې دا پيسې سيلاب ځپلو ، خوارو مسکينو او محتاجينو ته ورکړ شي ؟
په ننګرهار ، لغمان ، او د شمال په ځينو ولايتونو کښې د سيلابونو له امله په زرهاو کورنۍ متضرره شوي دي ، آيا دا بهتره نه ده چې له هغوي سره کمك وشي ؟

جناب رئيس صاحب !
احمد شاه مسعود مصنوعي ملي قهرمان دی او دا قهرماني تاسې ورکړې ده، دا قهرماني واقعي نده، تاسې پوهيږئ چې مصنوعي شيان نه خوند لري نه کيفيت لري او نه هم دوام لري. داسې يو وخت به راشي چې دا ملي قهرماني چې تاسې مسعود ته ورکړې دا به ترينه بيرته واخستل شي، ستاسې اولادونه به يې ورڅخه واخلي، ستا سې اولادونه به وايي چې " ګرانه بابا تاسې ستره تير وتنه کړې وه، دا سړی د ملي قهرمانۍ وړنه ؤ او تاسې ورته د قهرماني ورکړې وه، نو که اجازه يې دا به ترينه بيرته واخلو." بيا به تاسې ته څه پاتې شي او احمد شاه مسعود ته به څه پاتې شي ؟.

جناب رئيس صاحب !
د خدای په خاطر دا وطن آباد کړئ، دا وطن جوړ کړئ، پدې وطن کښې د واقعي سولې د راتلو دپاره کار وکړئ . تاسې ولس مشر ياست ، تاسې ددې ملت پلار ياست . مه پريږدئ چې ستاسې په وطن کې ستاسې بچيان همداسې خوار او زار وي، مه پريږدئ چې ستاسې بچيان له درس او تعليم څخه پاتې وي ، مه پريږدئ چې ستاسې بچيبان د بمونو، راکټونو او بمباريو له لاسه په وينو کښې لت پت شي.

رئيس صاحب! تاسې ددې وطن او ملت مسؤليت پر غاړه لرئ . تاسې به خدای ته جواب ورکونکي ياست . څنګه چې په يوې کورنۍ کښې پلار د خپلو اولادونو د تعليم تربيې ، خوراك څښاك ، امنيت او نور حياتي شيانو د تأمين مسؤليت پر غاړه لري همداسې يې تاسې د افغان ولس د پلار په حيث همدا مسؤليتونه لرئ . تاسې له ځان څخه وپوښتئ چې څو فيصده مسؤليتونه مو رفع کړي دي . يوه شيبه فکر وکړئ او له ځان محاسبه وکړئ چې تر اوسه پورې تاسې څه کړي او په راتلونکي کښې به څه کوئ.
رئيس صاحب دا ملت خو ستاسې په موجوديت کښې يتيم نه دی ، که يتيم وي نو بيا يې پروا نه کوله .
رئيس صاحب! کوم کاري ټيم چې تاسې يې لرئ او تاسې د دغه ټيم د غړو په مشورو کارکوئ دا د افغانستان د راتلونکي د پاره څه ګټه نرسوي، تاسې خپل کاري ټيم بدل کړئ، که دا کار ونکړئ نوهم به خدای مکړه تاسې تباه شئ اوهم به دا هيواد تباه شي .
هيله لرم چې سږکال به د احمد مسعود دا ورستی تلين وي چې لمانځل کيږي او راتلونکی کال به تاسې د يو فرمان په صادرولو ددې تلين لمانځل لغو کړئ . همداشان هيله ده چې د يو بل فرمان په صادرولو به له احمد شاه مسعود څخه د قهرمانۍ لقب بير ته واخلئ او که دا کار نه شئ کولی نو عبدالحق او د جهاد نورو شهيدانو ته هم د ملي قهرمان لقبونه ورکړئ او په دې ډول عدالت برقرار کړئ.

و ما علينا الا البلاغ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ